مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۷/۲۸

# خوشعرونه، خویادونه

## خوکرلي تخمونه

## (د مطیع‌الله تراب لومړی‌تلین)

### پنځمه او وروستۍبرخه

**تراب د جګړو، مهاجرتونو، ناخوالو او رنګارنګ بدلونونو په توفانونو کې رالوی شوی، له دې تولو پېښنو په ژوره توګه متأثر شوی، د خپلې‌ټولنې دغه ټولې پېښې یې د خپل ذهن په لابراتوار کې بیا ـ بیا مطالعه کړې دي، له خپلو تجربو سره یې یوځای کړې دي او پایله یې د شعر په قالب کې بېرته خپلې ټولنې او مخاطبینو ته وړاندې کړې ده، د همدې له‌پاره د تراب شعر د خلکو او ټولنې د عیني واقعیتونو او غوښتنو رښه هنداره ګڼلای شو. د تراب شاعري د هغو خلکو پرذهن او فکر سخت ګوزار دی چې هغوی شعر یوازې د ګل و بلبل، زلف و کاکل، خط و خال خبرې ګڼي.**

(آصف بهاند)





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

دا د تراب صاحب د نورو هغو ویدیو ګانو لینکونه دي چې ده په خپله خپل شعرونه په کې دیکلمې کړي دي:

د بډو د نه اخیستو توصیه:
https://www.facebook.com/reel/3907437432901693

د نارنجګل په مشاعره کې هبت‌الله ته وړاندیز چې کابل ته راشه:

https://www.facebook.com/reel/4143166089337491

پاکستاني سیاستمدار دې نور غوبل نه کوي:
https://www.facebook.com/reel/1217624490133467

په دې حال نه‌ومه، یو وخت امیرکروړ ونه زه:
https://www.facebook.com/reel/1050047587037887

هرپهلوان دلته د سریینو ډنډ کې بند پاتې دی:
https://www.facebook.com/reel/1971112386992333

ما ډاروئ مه:
https://www.facebook.com/reel/582852724692139

دا دی خپل ټوپک ویشتلې یو، غلبیل یو:
https://www.facebook.com/reel/1941779336639249

تبلیغیانو ته په خطاب کې:
https://www.facebook.com/reel/1489527785058664

د کابل مسلماني:
https://www.facebook.com/reel/1492378051547303

بې له ټوپکه په دا ملک کې ګوزاره ګرانه ده:
https://www.facebook.com/reel/775827938196432

د خان او خوار پرتلنه:
https://www.facebook.com/reel/1439923470861171

هغو سربښندونکو ته چې د دوښمن ځواب وایي:
https://www.facebook.com/reel/1427899418264197

افغانستان یې د باروت لمبو کې وسپځلو:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

https://www.facebook.com/reel/1452549555991758

پر موږ باروت راچلوي او چلوي يې پر موږ:
https://www.facebook.com/reel/650369521007660

اختر ته:
https://www.facebook.com/reel/1364586344538577

د مرستې لاس د نړۍوالو زموږ هرلوري ته
دې هر لستوني ته چې گورم نو منگور پەکې وي
منو چې ډېر به وي زموږ د خوشحالو قاتلان
چې څومره ډېر وي، نو يوکس به د لاهور په کې وي
https://www.facebook.com/reel/1258863715286799

په پښتنو کې دوښمني او تربورولي:
https://www.facebook.com/reel/369891069368325

ياره نور څومره انتظار:
دلته چې هرڅوک راشي، ځان سره ټوپک راوړي
https://www.facebook.com/reel/1255548434958251

د تعليم په اړوند:
https://www.facebook.com/reel/1295428858868456
https://www.facebook.com/reel/1094781175877165
https://www.facebook.com/reel/1242351320428826

کابل ته د ملا هبت‌الله رابلل:
https://www.facebook.com/reel/9367040153382178

ملنگ يم، خو خيرات نەغواړم:
https://www.facebook.com/reel/1406366463980635

د نوم پوښتنه:
https://www.facebook.com/reel/647613117620809

وَ ليونيه سپيني مەوايه خپل سر به وخورې:
https://www.facebook.com/reel/1788151952116689

د تراب صاحب يوه جالبه مرکه:
https://www.facebook.com/reel/1078781084356120


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

تبليغيان:
https://www.facebook.com/reel/720512953947505

دا ښامارانه به بيا ترڅو زما پر ولس پراته وي:
https://www.facebook.com/reel/1452961625830029

تراب څومره موده پس شعر ليکي:
https://www.facebook.com/reel/1377890959949483

داسي خلک چي ۵۰۰۰ کلن تاريخ لري، خو ستنه کي تراوسه تار اچولی نه‌شي:
https://www.facebook.com/reel/1486957222489220

کار اهل کار ته نه‌سپارل او قامولي پالل و:
https://www.facebook.com/reel/4110468242524840

دا څه چي غواړم، دا دي لوی افغانستان ته غواړم:
https://www.facebook.com/reel/774160231937273

دا ښاماران به نو ترڅو پر خزانو پراته وي:
https://www.facebook.com/reel/1123968306239736

سياستوال هيڅچيري د هيڅچا خپليدلی نه شي:
https://www.facebook.com/reel/738499978911709

طالب چارواکي ورته ناست دي:
په بدنيتی چي څوک راغلي، سر يي نه‌دی وړی
دنگو ځوانو، دنگو سرونو دلته خمخوړلی
https://www.facebook.com/reel/1412363623318843

چاويل چي موږه بنگکرلي دي، لونگ نه‌کړو
موږ خو له جنگ سره په جنگيو، چي نور جنگ نه‌کوو
https://www.facebook.com/reel/1439275284632739

د تراب د ادي صندوق:
د تولني طبقاتي ويش:
https://www.facebook.com/reel/2205314976573757

چيرته يوغل افغانستان کي سرعام په دارشو:
https://www.facebook.com/reel/1241257533982012

دا وږی به شږی نه‌شي ولس‌مشره:
دا هيواد نه د ايران نه د کولاب دی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

نه د روس د امریکا نه د پنجاب دی
https://www.facebook.com/reel/3054750411362987

په کار مې نه‌دي دا دنګ دنګ لکه اوښان پښتانه
څه کوم څه دا دومره ډېر لکه مچان پښتانه
سلګاله ژوند لکه ګلخان چې غلی غلی کوم
دوه ورځې ژوند لکه منظور په کې سپېرلی کوم
https://www.facebook.com/reel/2765683656965892

تراب د خوشحال په باب غږېږي:
https://www.facebook.com/reel/4180462252225329

د سر بایللي جواری نه مې زړه نه‌صبرېږي:
https://www.facebook.com/reel/1437653250849881

د بغاوت سر او ټیټ شوی سر:
https://www.facebook.com/reel/1767286470845714

د طالب مشرانو په حضور کې شعر ویل:
https://www.facebook.com/reel/2991880922413433

د تراب او د هغه د شعر په باب ما پخوا هم ویلي او لیکلي وو او اوس یې هم وایم چې:

تراب په یوه انټریو کې چا ته ویلي وو چې:

«زما ژوند همدغه دی، چې ته یې دلته وینې: اوسپنه وټکوه، لنده یې کړه، اوږده یې کړه. يره زه خو ځان شاعر نه بولم!»

نو چې ټوله ورځ او ټول ژوند یې د اوسپنو په ټکولو تېرېږي، د خپلو فکرونو د بیان له پاره د لغاتو دا لښکر له کومه کوي او بیا دا وییونه څنګه سره پیي، څنګه یې تنظیموي او څنګه یې په داسي احساس وایي چې ته به وایې د تمثیل په کوم لوی پوهنتون کې یې لوړې زدکړې کړې دي چې په سلګونو ناست خلک داسي ورته غلي او غوږ غوږ وي، لکه جادو یې چې پرې کړی وي.

د تراب ټوله شاعري د ظلم او بې عدالتۍ سره د مبارزې او د خلکو د راویښولو له پاره ځانګړې شوې ده. د تراب شعرونه همدې نسل او راتلونکو نسلونو له پاره د یو شتمن میراث بڼه لري او دا میراث موږ باید تر نورو نسلونو پورې هم ورسوو.

تراب د ظالمانو او بې‌عدالتیو سره د مقابلې له‌پاره کوم مسلح لښکر نه درلود، خو د لغاتو داسي یو نه‌ماتېدونکی لښکر یې درلود چې د هر ډول ظالمانو او بې عدالتیو د مقابلې له پاره یې درولی و، ده د مدبر لاربنود په ډول د خپلو لغاتو د لښکر مشري کوله او د ناروا وو پر مانیو باندې زلزلې ګډې کړې او نړولې یې.

تراب صاحب د خپل سحرګرذهن په کارخانه کې، د خپلو وللوو لغاتو په کارولو سره د فقر او نیستۍ ــ چې د تولنې ډېر خلک ورسره لاس ګرېوان دي ــ تابلو داسي انځوروي چې که «لیوناردو داونچي»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ژوندی وای، ورته حیران شوی به وای. د تراب صاحب په لاندې څوبیتونو کې د یادې تابلو یوه برخه لیدلای شئ:

اې د نازبینو د چم خانه، تا ته څه‌یته ده
ته څه خبریې لوړه څه ته او تنده څه ته وایي
ته چې پیداشوې، په ککو کې درته شات څښېدل
زه چې پیداشوم، ما د مور اوښکو ته خوله وازه کړه
تا چې قدم کېښود، دیګونه ولسونو خوړل
زه د مور غېږ کې جام په‌لاس ستاسو کوڅه کې ولاړ...
https://www.facebook.com/reel/1943356579687743

د تراب په شعرونو کې د تاریخ، سیاست او په ټولنیزژوند کې د پېښو شوو بدلونونو د تحلیل او پوهېدنې لوی درسونه په لنډو هنري الفاظو کې داسې وړاندې شوي دي چې د تاریخ او سیاست په پنډو کتابونو کې هم لا نه ځایېږي.

تراب د سیاست، تاریخ او ټولنیزژوند دا رنګارنګ ترخه اورنې بدلونونه لکه اور تر ستوني او غوږونو تېر کړي دي، د خپل نابغه ذهن په لابراتوار کې یې هضم کړي ـ تللي، د شعر په ګانه یې پسوللي او بېرته یې اوسني او راتلونکو نسلونو ته د یوې قیمتي ډالۍ په چوکاټ کې د لویو او نه هېرېدونکو درسونو په ډول د خپل دردېدلي ستوني او خولې له لوډسپیکر نه را ایستلي دي چې اوس د ډېرو خلکو له پاره په وېناوو کې د متالونو د راوړلو په ډول کارول کېږي او د وخت په تېرېدو سره به دا لړۍ د تراب د فرهنګي میراث او یادګار په ډول نوره هم وغځېږي.

په پای کې خدای هغه وخت راوروست چې تراب له موږ نه جلا کړي. تراب د خپل مرګ منظره لیدلې وه، ځکه یې ویل: هرڅه به وي، «خو زه به په‌کې نه‌یم»

د دې غملړلي بحث په پای به د ده یوغملړلی کلام راوخلم:

حجره به وي، یاران به وي، خو زه به په‌کې نه وم
سمسور به دا تمام افغانستان وي، لکه ته
بېګاه یوڅوک په خوب کې راروان وي لکه ته
ما هم بویه نیولی له ګرېوان وي لکه ته
تمبلوي، ملالۍوي، میوندي سندرې وایي
ګلګون په خپلو وینو ایوبخان وي، لکه ته
د سپینوزرو جام کې سپین اوبه، ته جلوهلی
نیمګړی مې په غېږه کې ارمان وي لکه ته
اجګر اجګر بانه یې پر څوکیو وینې ولاړوي
پېزوان دې پر سروشونډو قومندان وي، لکه ته
یوڅوک د جوارګر احساس ترسیوري لاندې راشي
بایللی یې بیا ټول سراوسامان وي، لکه ته
پښتون، پښتون ناری له یو پنډغالي نه راخېژي
لحاظا په دې تور کې بندیوان وي، لکه ته
مذهب، پښتو او خاوره یې دوکړې ده لانورهم
پراته مو په لستونو کې ماران وي، لکه ته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځير و لولـئ

روډلي يې دا خاوره لکه اوبه لکه شوده دي
خوبياهم د دې خاورې دوښمنان وي، لکه ته
زما پښتون ارمان لکه لوټشوی جنګلک دی
کابله زما به هم داسې داستان وي، لکه ته
حجره به وي، ياران به وي، خو زه به په‌کې نه وم
سمسور به دا تمام افغانستان وي، لکه ته
نه زما لوپټه نوې شوه، نه ستاڅادر ترابه
څوک ماته لاجوابه دي، څوک تا ته، لکه ته

**د مطیع‌الله تراب انساني او ملي ارمانونه دې ترسره شي!**

**اروا يې ښاده**
**او ياد يې تل‌پاتې**

پای

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

[http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95](http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ